اقرأ مدرسه تربية الاطفال

قال رسول الله ﷺ صلوا كما رأيتموني أصلي

# دماشومانولمونځ

## د ماشومانو لپاره د اوداسه لمانځه ښوونه او څو دعاګاني


مرتب:

احمد یاسین عفا الله عنه

ناظم تعلیمات اقرأ مدرسه تربية الاطفال



مکتبه حبیبیه

ارګ بازار قندهار افغانستان

اقرأ مدرسه تربية الاطفال

# د ماشومانو لمونځ

د ماشومانو لپاره د اوداسه، لمانځه ښوونه او څو دعاګاني


مرتب: احمد یاسین عفااللہ عنہ

ناظم تعلیمات اقرأ مدرسه تربية الاطفال

# د کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: د ماشومانو لمونځ

مرتب: احمد یاسین

طبعه اول: ۱۴۳۴-شعبان-۱۲

طبعه دوهم: ۱۴۳۵-ربیع الثاني-۱۰

د چاپ مقدار: ۱۱۰۰ټوکه


حنفی شافعی
بسم اللہ الرحمٰن الرحیم
کفایت دینی کتب خانه
کفایت اللّٰه ابن صدیق
واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل
اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔
کفایت اللہ ابن صدیق
+923052488551
+923247442395
easypaisa
حنبلی مالکی

# سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین
امابعد ! د نبي کریم ﷺ ارشاد مبارک دی چي : لمونځ د دین پایه او میل دی چا چي لمونځ
قایم او سم ودروی نو دین یې قائم کړی ، او چا چي لمونځ ونړوی هغه دین ونړوی نو
ضرورت سته چي د دین د دغه اهم رکن د تعلیم او تبلیغ طرف ته توجه ورکړل سي ، او په
تمامو اعمالو کښې تر ټولو زیات اهمیت هم د لمانځه دی ، د لمانځه د زده کړي لپاره
مفتیانو حضراتو ، علماؤ او شیخانو بې شمېره کتابونه ترتیب کړي دي ، او په هغه کښې
یې د لمانځه ضروري مسئلې او فضائل بیان کړي دي ، خود احقر هیله دا وه چي د دې پر
ځای چي د اقرأ مدرسه تربیة الاطفال هر ماشوم د لمانځه د زده کړي لپاره د لمانځه د
مسایلو او فضایلو تفصلي کتابونه د ځان سره ولري د هغه پر ځای ماشومانو ته یو
مختصر د لمانځه کتاب چي په ډېره ساده او اسانه ژبه باندې ترتیب کړل سي ، ښه به وي ،
د ارتیا له مخي دغه رساله ترتیب کړل سوه ، چي په هغه کي د او داسه ښوونه ، د لمانځه
ښوونه ، او په پای کښې څو مهیمي دعاګاني ذکر سوي دي ، الله ﷻ دي زموږ دا لږ عمل
په خپل دربار کښې قبول او مقبول وګرځوي .
د یادوني وړ ده چي د دې کتاب ماخذ (اخذ) د څو مهیمو او مشهورو کتابو نو څخه
سوی دی چي هغه کتابونه د دې جامعې د مخورو علماؤ دي هر یو لکه : اسلامي تحفه
(مرتب : الحاج مولوي عبدالحنان صاحب) ، آسانه لمونځ (ژباړن : قاري مولوي حکمت
الله راغب صاحب) او هم تعلیم الاسلام (د مفتي محمد کفایت الله رحمة الله علیه ژباړل
سوي کتاب) .
پر ما عاجز باندي د الله پاک ﷻ دا ډېر لوي فضل او احسان دی چي هغه ماته دا توفیق
راکړی چي د هغه د رضا په خاطر د ماشومانو لپاره د لمانځه یو مختصر کتاب ترتیب
کړم ، زموږ خطاء کارانو څخه که کوم نیک کار وسي هغه زموږ د فضیلت په وجه نه وي
بلکه د الله پاک ﷻ فضل او کرم وي ، همدارنګه دغه هم په ذهن کښې وساتی چي دا یو
بشري کار دی ، خطاء او هیره فطري امر دی ، که چیري تاسو ته په دې کتاب کي کوم ځای
غلطي په نظر درغله نو زه به ستاسو څخه شکر ګزاره سم چي تاسو ماته هغه په ګوته کړی
تر څو په راتلونکي چاپونو کښې یې اصلاح وکړو .

احمد یاسین عفا الله عنه
خادم اقرأ مدرسه تربية الاطفال
۱۳ رمضان المبارک / ۱۴۳۴ هـ ق

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د اسلام ارکان

❶ کلمه طيبه. ❷ لمونځ اداء کول. ❸ د روژې د مياشتې روژه نيول.
❹ د خپل مال څخه زکات ورکول. ❺ حج کول.

## کلمه طيبه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

## کلمه شهادت

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ

وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

## دريمه کلمه تمجيد

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ

وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ

## ایمان مجمل

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ وَاَرْكَانِهٖ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْب

## ایمان مفصل

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ

### د استاد دپاره لارښود

و ماشومانو ته کلمه طیبه (توحید)، کلمه شهادت، ایمان مجمل او ایمان مفصل لفظي په یاد کړی، اول دې استاد د ماشومانو وړخته څپله ووايي بيادې ماشومان و هڅوي چې د استاد سره يې تکرار کړي، او وروسته دې هر ماشوم د صنف مخته راولاړ کړي تکرار دې پرې وکړي، چيرې چې د اصلاح ضرورت وي اصلاح دې وکړي

# داوداسه سنت طریقه

په پاک لوښي کې پاکې اوبه راواخلی پر پاک ځای باندې کښېنی ښه داده چې لوړ وي، چې د اوبو څاڅکي بېرته پر هغه نفر باندې ونه لوېږي، اوکه مخ پرقبله کښېني ډېر ښه دی، لستوڼی تر څنګلو لوړ راټول کړی، بیا بسم الله ووایاست، او درې ځلې تر مړوندو پورې لاسونه پرېولی، بیا درې ځله خوله پرېولل او مسواک وهل که مسواک نه وي نو په ګوته باندې غاښونه موږل بیا درې ځلې ورېزې ته اوبه ور اچول اوبه چپه لاس پاکول، وېزې ته د اوبو اچولو معنی داده چې په ساه باندې تر نرمکیو پورې اوبه ورسوی، بیا درې ځلی مخ پرېولل پرمخ باندې اوبه په زوره مه وهی، بلکې په قراره پرتندې باندې اوبه واچوی او بېرې پې وی، مخ دتندې د ورېښتانوڅخه ترزنې لاندې او دواړه غوږونه تر نرمکیو پورې پرېوی، بیا د څنګلو سره دواړه لاسونه پرېولی اول راسته لاس درې ځلې او بیاچپه لاس درې ځلې پرېولی، بیادواړه لاسونه په اوبو باندې لانده کړی، دسرمسح وکړی مسح بواځې یوځل په کار ده، دچپه او راسته لاس ګوتې سرپرسر سره یوځای کړی دتندې پر ورېښتیانو یې کښېږدی ترڅټه پورې یې کش کړی بیا دڅټ لخوا د دواړو لاسونو خپړې دغوږو سره راتېرې کړی، بېرته یې تر تندې پورې راورسوی،ددې سره یوځاې دغوږومسح داسې وکړی، چې دغوږو په دواړو سریو کښې دشهادت ګوتې ور دننه کړې او په بټه ګوته دغوږو دشاه خوا مسح کړې اود ګوتو په شاه باندې دڅټ مسح وکړې،او د غړو وسوریو ته خچنې ګوتې دننه کړې پکښې وڼې ښوروې، بیا درې ځلې دواړې پښې اول راسته پښه بیاچپه پښه دبجلکو سره ومینځی.

## د استاد دپاره لارښود

څوځلې عملي اودس کول تکرار کړی، د اوداسه فرضونه، سنتونه، مستحبات، مکروهات، ماتوونکي، په یاد ورزده کړی ترڅو ماشومان د اودس کولو په وخت کښې ورته متوجه او احتیاط وکړي.

## داوداسه فرضونه

❶ دتندي د وربېستانو څخه شروع بياتر زني لاندي پوري او ديوه غوږدنرمكى څخه نيولې بيا د دا بل غوږ دنرمكى پوري دمخ پريول. ❷ دواړه لاسونه دځنګلوسره پريول. ❸ دسردڅلورمي حصې مسح كول. ❹ دواړي پښي سره د بجلكوپريول

## داوداسه سنتونه

❶نيت كول. ❷ په اول كښي بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ويل. ❸ مخكي دواړه لاسونه تر مړوندوپوري درې ځلي پريولل. ❹ درې واره دخولې پريول. ❺ مسواک وهل. ❻ درې واره پزې ته اوبه اچول. ❼ هر اندام درې واره پريولل. ❽ دټول سر مسح كول. ❾ د غوږو مسح كول. ❿ دلاس او د پښو د ګوتو خلالول. ⓫ د ږيري خلالول. ⓬ په ترتيب سره اندامونه پريول اول دمخ پريول بياتر څنګلو پوري دلاسو پريول دسرمسح اوبيا دپښو پريول. ⓭ پرلپسې په داسي ډول اندامونه پريول چي دمخكني اندام تروچېدو مخكي بل اندام پريولل سي.

**مسئله** دحلق مسح دي نه كوي چي دا بداعت دى. اودسنت په پرېښودولو سره خو اودس صحيح كيږي ليكن ثواب ئي كميږي.

## داوداسه مستحبات

❶ مخامخ دقبلې وطرفته كښيناستل. ❷ داندامونودپريولو په وخت كي اندامونه موږل. ❸ دراسته خوا څخه شروع كول. ❹ د اوداسه څخه پاته سوي اوبه په ولاړه چيښل. ❺ په اوداسه كښي دبل چاڅخه مرسته نه غوښتل

**مسئله** دمستحب په پرېښوولو سره و اوداسه ته تاوان نه رسيږي خوكوم ثواب چي د مستحب دى هغه بيا نه رسيږي.

## داوداسه مکروهات

❶ ناپاکه ځای اودس کول. ❷ په راسته لاس پزه پاکول. ❸ په اوداسه کښې د دنیاخبري کول. ❹ اوبه ډیري تویه ول. ❺ دسنت خلاف اودس کول. ❻ د اوبو لپې په زوره پرځان (مخ) تویول.

## داوداسه ماتوونکی

❶ لوی حاجت کول. ❷ بولي کول. ❸ هوا وتل (دشا دخوا څخه). ❹ وینه وتل. ❺ نو وتل. ❻ ډکه خوله قی کول. ❼ دتکیه یا د ستوني سنخ په حالت کښي بیدېدل. ❽ په نشه کښي مست یابېسده کېدل. ❾ درکوع اوسجدې والا لمانځه کښي په زوره خندل.

## د اودس کولو وروسته دعاء

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ
وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ
اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ

**د استاد دپاره لارښود**

استاد دي دغه دعاء په ماشومانو په یاد کړي، مخته درسونو ته دي نه ځي ترڅو يې اودس عملي نه وي ورزده کړی.

# د لمانځه ذکرونه

## نیت

مثلا نیت کوم دڅلور رکعته فرض لمانځه د ماپښین خاص خداي لره په دې حاضر وخت دماپښین اقتدامي ده په دې حاضر امام پسې مخ مي په لور دکعبې شریفې الله اکبر.

که چیرې یوازې لمونځ کوی نوپه ملاء پسې د اقتداء کېدو نیت مه کوې.

## تکبیر

اَللّٰهُ اَکْبَرُ

## ثناء

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ ط

## تعوذ

اَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

## تسمیه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## سورۀ فاتحه یا الحمدالله

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ﴿۲﴾ مٰلِكِ یَوْمِ
الدِّیْنِ ﴿۳﴾ اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ ﴿۴﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ
الْمُسْتَقِیْمَ ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ ۙ۬ غَیْرِ
الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ ﴿۷﴾ اٰمِیْنَ

## سورة کوثر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اِنَّآ اَعْطَیْنٰكَ الْكَوْثَرَ ﴿۱﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿۲﴾
اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ﴿۳﴾

## سورة اخلاص

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾ لَمْ یَلِدْ ۙ وَلَمْ یُوْلَدْ ﴿۳﴾
وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

## سورة فلق

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قُلۡ اَعُوۡذُ بِرَبِّ الۡفَلَقِ ۙ﴿۱﴾ مِنۡ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿۲﴾ وَمِنۡ شَرِّ
غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾ وَمِنۡ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الۡعُقَدِ ۙ﴿۴﴾ وَمِنۡ شَرِّ
حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾

## سورة الناس

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قُلۡ اَعُوۡذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ۙ﴿۲﴾
اِلٰهِ النَّاسِ ۙ﴿۳﴾ مِنۡ شَرِّ الۡوَسۡوَاسِ ۙ الۡخَنَّاسِ ۙ﴿۴﴾ الَّذِىۡ
يُوَسۡوِسُ فِىۡ صُدُوۡرِ النَّاسِ ۙ﴿۵﴾ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾

## درکوع تسبيح

سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ ط سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ ط

سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ ط

## قومه

سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ط

## ددغي قومي تحميد

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ط

## دسجدي تسبيح

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی ط سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی ط

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی ط

## تشهديا التحيات

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ ط اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ ط اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

## درود شریف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ○

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ○

## د درود شریف وروسته دعا

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط

## سلام

راسته لور ته
اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ط

چپه لور ته
اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ط

## دلمانځه وروسته دعاء

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ط

فایده: د فرض لمانځه وروسته ۳۳ ځله سبحان الله او ۳۳ ځله الحمد لله او ۳۴ ځله الله اکبر ویل ډیر زیات ثواب لري.

د استاد دپاره لارښود

په ماشومانو باندې دلمانځه دا ټول ذکرونه په یاد کړی، اول دې استاد د ماشومانو وړاندې خپله ووايي بیادې ماشومان و هڅوي چې د استاد سره یې تکرار کړي، او وروسته دې هر ماشوم د صنف وړاندې راولاړ کړي تکرار دې پرې وکړي، چیرې چې د اصلاح ضرورت وي اصلاح دې وکړي.

## دلمانځه فرضونه

دلمانځه فرضونه څوارلس (۱۴) دي په دې کښې بعضي دلمانځه دمخه کول ضروري دي چې د لمانځه شرطونه ویل کیږي او څوشیان داسي دي چې دلمانځه دننه دي ودې ته دلمانځه ارکان ویل کیږي.

## دلمانځه شرطونه

❶ دبدن پاکوالي. ❷ دکالو او مصلې پاکوالی. ❸ د عورت پټېدل یعني دنارینه وو دنوُ ځخه شروع بیا تر زنګنو پورې او د ښځو دمخ او ورغوو او پښو څخه ماسیوا دټول بدن پټول فرض دي. ❹ دلمانځه دځای پاک والی. ❺ دلمانځه وخت. ❻ وقبلې ته مخامخ کېدل. ❼ دلمانځه نیت کول.

## دلمانځه ارکان

❶ اول الله اکبر. ❷ ولاړه. ❸ قرائت یعني یوسورة یا یو اوږد یادرې لنډ ایاتونه ویل. ❹ رکوع کول. ❺ سجده کول. ❻ اخیري ناسته (د التحیات د ویلو په اندازه) ❼ په خپل اختیار سره لمونځ ختمول

**مسئله** که په دغو شیانو کښې یوشی قصداً یاپه هېره سره پاته سو نو لمونځ نه صحیح کیږي دوهم ځل دي لمونځ را وګرځوي.

## دلمانځه واجبات

دغه لاندي شیان په لمانځه کښې واجب دي:
۱ الحمدلله ویل. ۲ ورسره یو بل صورت ویل. ۳ دفرضو په اولو دوو رکعتو کښې قرات ویل. ۴ الحمدالله دسورت له مخه ویل. ۵ قومه کول یعني درکوع څخه نېغ سیده دربدل. ۶ جلسه کول یعني د دواړو سجدو په مینځ کښې ناسته کول. ۷ اوله ناسته. ۸ التحیات ویل. ۹ د السلام علیکم ورحمة الله په تورو سره لمونځ ختمول. ۱۰ دماپښین او مازدیګر په لمنځو کښې قرات پټ ویل. ۱۱ د امام لپاره دماښام، ماخستن په اولو دو رکعتو کښې په لوړ اواز سره قرات ویل، او د سهار، دجمعي، اخترونو او تراویح په ټولو رکعتونو کښې قرات په لوړ آواز سره ویل. ۱۲ په وترو کښې دعاء قنوت ویل. ۱۳ د دعاء قنوت څخه مخکي الله اکبر ویل.
۱۴ په اخترونو کښې شپږ ۶ الله اکبرونه ویل.

**مسئله** دواجباتو څخه که یو په هېره سره پاته سو نو سجده سهوه کول واجب ده او په قصداً پرېښودل سره دوهم ځل بیرته لمونځ کول واجب دي.

## دلمانځه مفسدات

۱ خبري کول که لږ وي که ډیري او که په هیره وي که په قصده سره. ۲ سلام کول یا د سلام جواب ورکول. ۳ دترچي کونکی والا په جواب کښې یرحمک الله ویل. ۴ دغم په خبر اوربدو سره پوره انالله وانا الیه راجعون ویل یا لږ ویل یاپه ښه خبري اوربدو سره الحمدالله ویل یا د عجبي خبري په اوربدولو سره سبحان الله ویل. ۵ د درد او تکلیف په وجه آه، اوه، او اف کول. ۶ دخپل امام څخه ماسیوا بل چاته فتح ورکول. ۷ په لمانځه کښې قرآن شریف په کتلو ویل. ۸ په قرأت کښې داسي

غلطي کول چي په هغه سره لمونځ فاسد ګرځي، ددې تفصيل په غټو کتابو کښي ليکلی دی. ⑨ عمل کثير کول يعني زيات کار کول مثلاً : داسي عمل وکړي چي بل څوک دا ګمان پر وکړي چي ګواکي دی په لمانځه کښي نه دی او يا په دواړولاسونه سره يو عمل کول. ⑩ په قصد ياپه هېره سره يوشی خوړل. ⑪ د قبلې څخه دسينې ګرځول. ⑫ د درد ياغم په وجه داسي ژړل چي دژړاڅخه توري پيداسي. ⑬ په لمانځه کښي داسي خندل چي لږتر لږه خپله يې واوري. ⑭ دامام څخه مخکي کېدل

خبرتيا دا يو څو مفسدات وليکل سوه په غټو کتابو کښي نورهم سته په دې شيانو لمونځ فاسدېږي يعني خرابېږي که په قصد سره پربښودل سي او که په هېره سره.

## دلمانځه سنتونه

① د اول الله اکبر په وخت کښي ونارينه وو ته دواړه لاسونه ترغوږو پوري او ښځوته ترسينې پوري پورته کول. ② نارينه دي لاسونه ترسينې لاندي نيسي اوښځې دي پرسينه باندي لاسونه نيسي. ③. ثناء يعني سبحنک اللهم تر اخيره پوري ويل. ④ اعوذ بالله ويل. ⑤ بسم الله ويل. ⑥ د يو رکن څخه وبل رکن تلو په وخت کښي الله اکبر ويل. ⑦ د رکوع څخه دپورته کېدو په وخت کښي سمع الله لمن حمده او ربنالک الحمد ويل. ⑧ په رکوع کښي سبحان ربی العظيم لږتر لږه درې ځله ويل. ⑨ په سجده کښي سبحان ربی الاعلی لږتر لږه درې ځله ويل. ⑩ د دواړو سجدو په مينځ کښي او پر التحيات باندي نارينه دي پرچپه پښه کښېني او راسته پښه دي ودروي اوښځې دي دواړي پښې وراسته خواته باسي او پر بجلکو دي کښېني. ⑪ درود شريف ويل ⑫. د درود شريف وروسته دعاء کول. ⑬ دسلام په وخت کښي چپه او راسته خواته مخ ګرځول. ⑭ که ملا اماموي په سلام کښي د ملائيکو اومقتديانو اونيک پيريانو چي حاضر وي نيت کول. او که مقتدي وي نو کچيري پرملا برابر ناست وي په دواړو خواؤ کي دي د ملا امام هم نيت ورسره وکړي او که راسته ياچپه بغل ته ناست وي نو کومي خواته چي امام وي په هغې خواکي دي دامام نيت کوي.

## دلمانځه مستحبات

(۱) کله چي نارينه څادر پرځان باندي پيچلی وي نو د نيت کولو په وخت کښي دي لاسونه د څادر څخه دباندي وباسي. (۲) ترخپله وسه ټوخا بندول. (۳) چي کله اړږمی درته راسي نوخوله بندوئ. (۴) د ولاړي په حالت کښي دسجدې پرځاي او د رکوع په حالت کښي پرپښو باندي او دسجدې په حالت کښي پر پزې باندي اوپه التحيات کښي پرخپل غېږ باندي او د سلام په وخت کښي په خپل اوږو باندي نظرساتل.

## دلمانځه مکروهات

(۱) پر ډډې (تشي) باندي لاس نيول. (۲) دلستوني څخه دباندي لاسونه را ايستل. (۳) کالي راټولول. (۴) په بدن يا کاليو باندي لوبي کول. (۵) په ګوتو ټکان کول. (۶) چپه او راسته خواته غاړه ګرځول. (۷) دسپي په ډول ناسته کول (په التحيات کښي دواړي پښي جګي درول). (۸) ونارينوؤ ته نس دورنو سره مښلول. (۹) بېله عذره چارزانو کښېناستل. (۱۰) وملا امام ته په محراب کښي دننه درېدل. (۱۱) دصف څخه يواځي درېدل. (۱۲) مخامخ يا لوړ پرسرباندي د عکس زوړند کېدل. (۱۳) په عکس داره کاليو کښي لمونځ کول. (۱۴) پر اوږو باندي څادر يا بله جامه زوړندول. (۱۵) دکوچني اولويو بولو د سخت په عذابولو او ډيري لوږي په حالت کښي لمونځ کول. (۱۶) لڅ سرلمونځ کول، دا حکم ونارينه ته دی ښځه که لڅ سر لمونځ وکړي هغه نه دی صحيح. (۱۷) په پټو سترګو لمونځ کول. (۱۸) په لمانځه کښي کوږ درېدل. (۱۹) پرټولو اندامو باندي پيچل سوي جامه کښي لمونځ کول

**د استاد دپاره لارښود**

په ماشومانو د لمانځه فرايض، واجبات، مفسدات، سنتونه، مستحبات او مکروهات په ياد وروزده کړی، اول دي استاد د ماشومانو وڅخه ووايي يا دي ماشومان وهڅوي چي د استاد سره يې تکرار کړي، او وروسته دي هر ماشوم د صنف و څخه راولاړ کړي تکرار دي پرې وکړي چيري چي د اصلاح ضرورت وي اصلاح دي وکړي.

## استاد باید وشاګردانو ته لمونځ د سنت طریقې مطابق داسې ور زده کړي.

و ماشومانو ته تر دغه ځاې د لمانځه طریقه عملي په صفونو کښې ولاړ ور زده کړي، دتکبیر تحریمه طریقه، د لاسونو بندولو طریقه، د قیام یا ولاړې طریقه، د پښو رخ کوم طرف ته وي، نظر کوم طرف ته وي، د جماعت په صورت کښې د صفونو جوړلو طریقه دا ټول په تفصیل سره ور وښیاست، او عملي تمرین هم پرې وکړی، تر هغه چې یې د لمانځه عملي طریقه نه وي زده کړې راتلونکي درسونو ته مه ځی، ماشومانو ته ووایاست چې: دلمونځ کولو طریقه لپاره پاک کالي وا غوندي پر پاک ځاې باندي په اوداسه سره مخامخ وقبلې ته ودرېږی او د لمانځه نیت وکړي، دواړه لاسونه دي تر غوږو پورې داسې پورته کړي چې د ګوتو رخ یې د قبلې وطرفته وي، د الله اکبر په ویلو سره دي لاسونه ترنوه لاندې وتړي، راسته لاس سربېره اوچپه لاس لاندې کړي د راسته لاس غټه ګوته او خچنه ګوته دې دچپه لاس پرمړوند باندې راتاو کړي او پاته درې ګوتې دې دچپه لاس پرلندی باندې پرې باسې، په لمانځه کښې شاه وخوا دې نه ګوري نظر دې د سجدې پر ځای وي، په ادب سره دې ودرېږی دخدای ﷻ و خواته دي متوجه سي، د ثناء، تعوذ، تسمیه، وروسته دې سورة فاتحه او په اخیر کښې امین ووایي، بیا دې یو سورة یا څو ایاتونه ووایي،د الله اکبر ویلو سره دې و رکوع ته ولاړسي په رکوع کښې دواړه لاسونه پر زنګنو باندې ونیسی، سر او ملا دې سره برابره وي نظر دې پر پښو وي، درکوع تسبیح یعنی سبحان ربی العظیم درې ځله یا پنځه ځله ولولی، درکوع څخه دې سیده سجدې ته نه ځي بلکه د سمع الله لمن حمده ویلوسره دې سیده و درېږي او ربنا لک الحمد دې ولولی بیا په الله اکبر ویلوسره وسجدې ته داډول ولاړسي چې اول دواړه زنګنونه پرمځکه باندې ولګیږي، بیا دواړه لاسونه پرمځکه باندې کښېږدې بیا د دواړو لاسو په مینځ کښې اول پزه بیا تندی کښېږدي، سبحان ربی الاعلی دې درې یا پنځه ځلې ولولی بیا د الله اکبر د ویلو سره دې سیده په اطمنان سره کښېني، بیا د الله اکبرو ویلو سره دې سم و دوهمې سجدې ته ولاړسي همدغسې سجده وکړي، لکه مخکنی سجده بیا دې د الله اکبر ویلو سره سم ولاړسي دولاړېدو په وخت کښې لاسونه پر مځکه نه تکیه کوي، د دواړو سجدو پوره کولو سره یو رکعت پوره سو اوس دوهم رکعت شروع سو په دې کښې اعوذ بالله نسته یوازې دې بسم الله ووایي بیا هم دغه سې دې الحمد الله، امین، یو سورة ووایي، د رکوع، قومه او دواړو سجدو کولو وروسته دې کښېني، التحیات بیا درود شریف او بیا

دي دعاء ووايي،وروسته اول راسته خواته مخ وګرځوي او بيا دي وچپه خواته مخ وګرځوي، دواړه طرفو مخ په ګرځولو کښې دي (السلام عليکم ورحمة الله) ووايي، او پر اوږو باندې دي نظر وکړي، دوه رکعته لمونځ سرته ورسيدي.

که چيري درې يا څلور رکعتيزه لمونځ وي نو په اوله التحيات کښې ترعبده ورسوله پوري التحيات ووايي بيا د الله اکبر ويلو سره دي ولاړسی بسم الله، الحمدالله او يو سورت دي ووايي رکوع او سجده دي وکړي. اوس نو که چيري درې رکعته لمونځ کوي نو پر دريم رکعت باندې دي کښېني د التحيات، درود شريف او دعاء ويلو سره دي سلام وګرځوي، اوکه چيري څلور رکعته کوی نو پر دريم رکعت باندې مه کښېني بلکې ولاړسی څلورم رکعت يعني بسم الله الحمد الله او سورت ووايا سترکوع، سجده،ناسته، التحيات، درود شريف او بيا دعاء ووايا ست او وروسته دواړو خواوته سلام وګرځوی.

**مسئله** دفرض لمونځو په دريم او څلورم رکعت کښې تر الحمدالله وروسته بل سورت يا ايات مه وايه بلکې تر الحمدالله ويلو وروسته رکوع ته ولاړسی، هو! دفرض لمونځو څخه ماسيوا د هر لمانځه په هر رکعت کښې د الحمدالله وروسته يو سورت يا څو اياتونه ويل واجب دي

**مسئله** که چيري په ملا امام پسي لمونځ کوی نوتر اول الله اکبر وروسته صرف سبحنک اللهم ووايا ست، اعوذبالله، بسم الله، الحمدالله، او سورت يوازې امام وايي او هم په دوهم دريم او څلورم رکعت کښې پټه خوله ودرېږی هو ! د رکوع، سجدې تسبيحات، التحيات او درود شريف او بيا دعاء د امام وروسته هم ووايا ست.

**مسئله** رکوع اوسجده داسي کول په کار دي چي سر او شا سره برابر وي يعني نه سر ترشاه پورته وي او نه هم کښته وي او دواړه لاسونه دپښتيو څخه جلاء وي او زنګنونه د لاسو په ګوتو باند ونيسی.

**مسئله** سجده داسي کول په کار ده چي دلاسو ورغوي باندې به پر مځکه باندې داسي پراته وي چي ګوتي به غوړېدلي وي او يو په بل به سره نښتي وي او د ټولو مخ به قبلې ته وي او څنګلی او لیڅی به د مځکې څخه پورته وي نس به د ورنو څخه او څنګلې به د پښتيو څخه ليرې وي او د دواړو پښو ګوتي به په ادا دول پيچلي وي چي سرونه يې دقبلې پرخوا وي.

**مسئله** د رکوع څخه د پورته کېدو په وخت کښې دې امام يوازې سمع الله لمن حمده وايي، مقتديان دې ربنالک الحمد ووايي او څوک چي يواځې لمونځ کوي هغه دې دواړه وايي.

مسئله: د دوارو سجدو او التحيات او درود شريف ويلو په وخت کښې د ناستې طريقه داده چې چپه پښه پرې باسې پرکښېنې او راسته پښه جگه ودروې دواړه زنگنونه به د قبلې پر خواوې دراستې پښې گوتې ښه سمې راوپېچې وقبلې ته يې مخامخ کړې او دواړه لاسونه داسې کښېږدې چې گوتې سيده پرتې وې.

مسئله: د التحيات ويلو په وخت کښې چې و اشهدن لااله الاالله ته ورسېږی نو د راسته لاس پربټه گوته او د منځ په گوته کړی جوړه کړی او خچنه گوته اوهغه بله په پسې گوته بندې کړی،بيا د شهادت گوته پورته کړی اشاره په وکړی کله چې لااله ووايا ست گوته پورته کړی او چې الاالله ووايا ست نو گوته کښته کړی او د سلام گرځېدو پورې گوتې پر دغه ډول باندې پرېږدی بيا چې مو سلام وگرځوی د گوتو دغه ترتيب مات کړی.

مسئله: د ماښام او ماخستن په اولو دوو رکعتو کښې او دسهار په دوارو رکعتو کښې و امام ته الحمدلله او د هغه وروسته سورت په لوړ آواز ويل واجب دې.

## دنارينه اوښځينه لمانځه فرقونه

ښځې دې هم دغسې لمونځ وکړې لکه نارينه خو په يوځوځايو کښې توپيرسره لرې چې هغه دادې:

❶ دتکبير تحريمه پر وخت کښې ونارينه ته د ځادر يا بلې جامې څخه لاسونه را ايستل ترغوږو پورې پورته کول پکار دي ليکن ښځې دې په هيڅ حال کښې لاسونه ترجامو نه راباسې تر اوږو پورې دې پورته کوي. ❷ دتکبيرتحريمه وروسته دې نارينه خپل لاسونه ترنامه لاندې اوښځې دې پرسينه وتړي.

❸ونارينه لره پکار ده چې دراسته لاس دکوچنی اوبټې گوتې څخه حلقه جوړه کړې دچپه لاس مروند په ونيسې او پاته درې گوتې دې دچپه لاس پرلېندی باندې دغسې وغزوي، وښځو لره پکار ده چې د راسته لاس خپره دې دچپه لاس پرخپرې باندې کښېږدي دنارينو په څېر دې حلقه نه جوړه وي چې چپه لاس په ونيسي.

❹ نارينه دې په رکوع کښې ښه کښته کيږي ترڅوچې ملا او سر يې سره برابر سي اوښځې دې دومره کښته کيږي چې لاسونه وزنگنو ته ورسيږي. ❺ ونارينه ته په رکوع کښې په پراخه گوتو سره زنگنونه نيول پکار دي، اوښځې دې په جفتو گوتو

باندي خپل زنګنونه ونيسي. ❻ ونارينو له څنګلي دبغل څخه درکوع په حالت کښي ليري کول پکاردي او ښځو ته ورسره جفتي نښلول پکار دي. ❼ ونارينو ته په سجده کښي نس د ورنو څخه او بازو دبغل څخه ليري کول پکار دي او و ښځوته نښلول پکار دي. ❽.په سجده کښي به د نارينو څنګلي دمځکي څخه پورته وي او د ښځو څنګلي به پرمځکه باندي پرتې وي. ❾ ونارينو ته په سجده کښي د دواړو پښو ګوتي جګي درول پکار دي ليکن ښځي دي دواړي پښي وراسته خواته وباسي.❿ ونارينو ته دناستي په حالت کښي پر چپه پښه کښېنستل پکار دي او د راستې پښې ګوتي درول پکاردي اوښځي دي دواړي پښې وراسته خواته وباسي او کښېديني.⓫ وښځو ته هيڅ وخت په لوړ آواز د قرائت ويلو اختيار نسته بلکه هروخت دي په کښته آواز سره قرائت وايي او د نارنيو لپاره په بعضو حالاتو کښي په لوړ آواز سره قرائت ويل واجب دی اوپه بعضي حالاتو کښي جائز دي.

## دپنځو لمونځو رکعتونه

❶ دسهار لمونځ څلور (۴) رکعته دي اول دوه رکعته سنت مؤکده بيا دوه رکعته فرض.

❷ دماپښين لمونځ لس (۱۰) رکعته دی اول څلوررکعته سنت مؤکده بيا څلور فرض بيادوه رکعته سنت مؤکده. بيا که وخت ؤ دوه رکعته نفل وک ی.

❸ دمازديګر لمونځ څلور (۴)فرض رکعته دی او که چيري وخت ؤ اول څلور رکعته سنت غيرمؤکده اداء کړی.

❹ دماښام لمونځ پنځه (۵) رکعته دی اول دري رکعته فرض بيا دوه رکعته سنت مؤکده، بيا که وخت ؤ دوه رکعته نفل اداء کړی.

❺ دماخستن لمونځ نهه (۹) رکعته دی، څلور رکعته فرض بيا دوه رکعته سنت مؤکده بيا دري رکعته وتر او که چيري وخت ؤ اول څلور رکعته سنت غيرمؤکده تر فرضو دمخه اداء کړی بيا د دوو رکعتو سنت مؤکده وروسته دوه رکعته نفل اداء کړی او بيا دوه رکعته نفل د وترو وروسته اداء کړی.

## د پنځو وختونو لمونځونو د رکعتونو شمېر

| وختونه | غیر مؤکده سنت دفرض دمخه | سنت مؤکده دفرض دمخه | فرض | سنت مؤکده دفرض وروسته | نفل | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فجر | – | ٢ | ٢ | – | – | ٤ |
| ظهر | – | ٤ | ٤ | ٢ | ٢ | ١٢ |
| عصر | ٤ | – | ٤ | – | – | ٨ |
| مغرب | – | – | ٣ | ٢ | ٢ | ٧ |
| عشاء | ٤ | – | ٤ | ٢ سنت<br>٣ وتر واجب | ٢ دوترو دمخه<br>٢ دوترو بعده | ١٧ |

## د وتر لمانځه طريقه

د وتر لمونځ درې رکعته دی طریقه یې داده: چې دوه رکعته وکړی کښېني التحیات وواياست بیا ولاړسی چې دریم رکعت کښې د الحمد الله او سورت څخه فارغه سی الله اکبر وواياست وغوږو ته لاسونه پورته کړه او بیا د مخکې په شان لاسونه وتړې دعاء قنوت وواياست له هغه څخه وروسته و رکوع ته ولاړسی او باته لمونځ پوره کړی دعاء قنوت داده:

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَ نُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَ نُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ ۙ وَ نَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَ نَخْلَعُ وَ نَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ۙ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَ نَحْفِدُ وَنَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَ نَخْشٰى عَذَابَكَ ۙ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ۙ

## دسجده سهوي بيان

د يو واجب په پاته کېدو سره يا ديو واجب يا فرض په زنډېدو سره يا يو فرض دځپل ځاي څخه اړول مخته کول يا د يو واجب په دوهم ځل اداء کولو سره سجده سهوه واجب ګرځي اوپه دې سره دهيري پوره والي راځي که چيري يوڅوک قصداً دغسي وکړي نوسجده سهوه هيڅ فايده نه لري بيا دي د سره لمونځ راوګرځول لازم دي اوکه يوفرض پاته سي نوپه سجده سهوه سره هغه نه پوره کيږي، بلکي دسره به لمونځ راګرځوي.

## دسجده سهوه طريقه

دسجده سهوه طريقه داده: چي په اخيري رکعت کنبي تر عبدهٗ ورسوله پوري التحيات ووایاست راسته خواته سلام وګرځوی، دوې سجدې وکړی خومعتمد کتابونو ليکي چي دا طريقه د امام دسجده سهوه ده دمنفرد لپاره نه ده که چايواځي لمونځ کوی هغه دي و دواړو اړخوته سلام وګرځوي. هرځل وسجدې ته دتلو په حالت کښي الله اکبر ووایاست او دواړې سجدې وکړی، کښېنی اوبيا پوره التحيات او د هغې وروسته درود شريف او دعاء ووایاست بيا دواړه اړخونو ته سلام وګرځوی.

## اذان

دفرضو لمونځو لپاره اذان کول سنت دي داذان توري دادي:

اَللّٰہُ اَکۡبَرُ ط اَللّٰہُ اَکۡبَرُ ط اَللّٰہُ اَکۡبَرُ ط اَللّٰہُ اَکۡبَرُ ط اَشۡھَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ط اَشۡھَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ط اَشۡھَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ اللّٰہِ ط اَشۡھَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ اللّٰہِ ط حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ ط حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ ط حَیَّ عَلَی الۡفَلَاحِ ط حَیَّ عَلَی الۡفَلَاحِ ط اَللّٰہُ اَکۡبَرُ ط اَللّٰہُ اَکۡبَرُ ط لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ط

## کله چې د اذان اواز واورئ

هر هغه څه چې مؤذن وايي تاسي هم هغه ووایاست او د
حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ط حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ط په جواب کښې
لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووایاست

## د اذان د اورېدلو وروسته دغه دعاء ووایاست

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدًا
الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ
اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ

## د بیدېدلو ترمخه دغه دعاء ووایاست

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيٰى

## د راویښېدلو وروسته دغه دعاء وواياست

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ

## بيت الخلاء ته دتللو مخکي اول بسم الله بيا دغه دعاء وواياست

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَآئِثِ

## چي کله د بيت الخلاء څخه راووزی بيا دغه دعاء وواياست

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّی الْاَذٰی وَعَافَانِیْ

## مسجد ته د داخلېدو په وخت کي دغه دعاء وواياست

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

## چي کله د مسجد څخه راوزئ دغه دعاء وواياست

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

کله چې د کوره راووزئ نو دغه دعاء وواياست

بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ

کورته چې داخل سی نو دغه دعاء وواياست

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ
بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا

د ډوډی د خوړلو مخکي دغه دعاء وواياست

بِسْمِ اللهِ وَبَرَكَةِ اللهِ

کله چې ډوډئ وخوری بيا دغه دعاء وواياست

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا
وَجَعَلَنَا مُسْلِمِيْنَ

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ




حافظ کتب خانه
اوترطاسیه پلورنځی

مکتبه غوثیه